# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


ژباړه: ولي

۲۲ جنوری ۲۰۱۲

## تل د ژوندانه ساده ډول او سختې مبارزې ته ادامه ورکړئ

۲۶ اکتبر ۱۹۴۹

مائوتسه دون

د "ین ان" ملګرو او د شنسی ـ کانسوـ نین سیا د سرحدي سیمې هیوادوالو:

ستاسو د شاباسی له پیغام څخه ډیر خوشاله او منندوی یم. له ۱۹۳۶ تر ۱۹۴۸ پورې ین ان او د شنسی ـ کانسو ـ نین سیا سرحدي سیمه د چین د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې مقر او د خلاصون لپاره د چین د ولسونو د مبارزې د عمومي جبهې شا وه. د "ین ان" او د سرحدي سیمې خلکو د ټول ملت لپاره ستر خدمتونه کړي دي. زه تاسو ته پریکنده پیوستون، د جګړې د ټپونو چټکه رغاونه او په اقتصادي او فرهنګي جوړښت کې د پرمختګ هیله کوم او امید لرم چې د ټول هیواد انقلابي کارکوونکي تل د ژوندانه هغه ساده ډول او سخت کوښښ، چې له څه باندې یوې لسیزې د "ین ان" او د شنسی ـ کانسو ـ نین سیا د سرحدي سیمې د کارکوونکو لخوا وساتل شو، ادامه ورکړي.